د افغانستان اسلامي جمهوريت
د مالیې وزارت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

خبر پاڼه

د نظارت او همغږۍ بورډ ناسته د مالیې په وزارت کې جوړه شوه

۱۱ عقرب ۱۳۹۴:

د نظارت او همغږۍ بورډ ناسته د لړم د میاشتې په ۱۱ مه د مالیې وزیر ښاغلي اکلیل حکیمي او په افغانستان کې د کاناډا سفیرې آغلې دیبورا لیون په ګډه مشرۍ د مالیې په وزارت کې جوړه شوه.

په یاده ناسته کې د مالیې،دفاع او کورنیو چارو محترمو وزیرانو ترڅنګ د مرسته کوونکو هیوادونو سفیرانو هم ګډون کړی وو.

د مالیې وزیر ښاغلي اکلیل حکیمي د ناستې ګډونوالو ته ښه راغلاست وویل او د غونډې اجنډایی برخه والو ته واوروله. حکیمي وویل چې د نن ناسته د دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو کې د شویو پرمختګونو او د وارسا کنفرانس ته د چمتووالي په موخه جوړه شوې ده.

د کاناډا سفیرې آغلې دیبورا لیون د وارسا کنفرانس او د افغان حکومت او په ځانګړې ډول د دفاع او کورنیو چارو د باور ترلاسه کولو د اهمیت په اړه خبرې وکړې ترڅو مرسته کوونکي هیوادونه وکولی شي چې د پیسو د مصرف په اړه د افغانستان د وزارتونو باور ترلاسه کړای شي او په راتلونکې کال کې د وارسا کنفرانس په بریالیتوب سره دایر شي.

د ملي دفاع او د کورنیو چارو ښاغلیو وزیرانو په اړونده وزارتونو کې د لاسته راوړنو، فرصتونو او راتلونکو پلانونه باندې خبرې وکړې.

د مالیې او د (□-□□□□) مسؤولینو هم د ملي ځواکونو د ملاتړ له پاره د پلانونو په اړه معلومات وړاندې کړل.

د ناستې ګډونوالو د ملي وحدت حکومت شاخصونه او پلانونه ارزیابي کړل او په اړه یې معلومات شریک کړل.

دغه ډول ناسته به د روان کال د دسمبر په میاشت کې جوړه شي ترڅو نړیوالو مرسته کوونکو ته د ملي وحدت حکومت د پرمختګونو او خپلو خلکو او مرسته کوونکو ته د اصلاحاتو او شفافیت په اړه لاسته راوړنې له مرسته کوونکو سره شریکې کړي.

###

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
اجمل حمید عبدالرحیمزی د مالیې وزارت ویاند او د اطلاتو او عامه پوهاوي ریاست سرپرست
د اړیکو شمیري: 0729994111 0202103620
بریښنالیک:□□□.□□□□□□.□□□@□□□□□.□□□ ویب پاڼه:□□.□□□.□□□.□□□ فیسبوک: وزارت مالیه/□□□.□□□□□□□□.□□□